Social Sceince
AcademicJournal

لید د پوهنتون علومو علمي مجله

LSSAJ

# په ابتدايي ښوونځيو کي د ديني او عصري زده کړو ګډ نصاب

اسدالله نور

پښتو څانګه، ښوونه او روزنه پوهنځی، ارزوګان د لوړو زده کړو مؤسسه

دمسؤل آيميل آدرس. Asadnoorkh@gmail.com

ترلاسه سوي: ۱۴۰۳/۱۱/۱۶ منل سوي: ۱۴۰۳/۱۲/۰۳ خپره سوي: ۱۴۰۳/۱۲/۳۰ دثبت ګڼه: LSSAJ-1-2-23 مخونه (۵۸-۷۵)


## لنډيز

دا چي په هيواد کښي په د وامداره توګه ناخولي تېري سوي دي، نو په همدې اساس مو د هيواد هري برخي ته زيان اوښتی دئ، ښووني او روزني بهير هم نه جبرانېدونکي تاوانونه لېدلي دي، د دې لپاره چي يو واحد تدريسي نصاب چي هم په اسلامي روحيه سمبال وي او هم د وختو غوښتونو ته جواب ويونکی وي، نو بايد **د ديني او عصري زده کړو ګډ نصاب رامنځ ته کړو**، ترڅو شته ستونزو او ننګو ته د پای ټکی کښېږدو. هو په دې څېړنيزه مقاله کي هغه اړتياوي روښانه سوي دي، چي د هيواد شته تعليمي او تربيوي ماحول ورته ضرورت لري، د مثال په ډول که په مکاتيبو کي د اسلامي ښووني بهير ارزونه وکړو، نو په ښه شان به راته معلومه سي، چي د دې برخي تدريس ته خورا په کم نظر کتل کېږي او همداسي په ديني مداريسو کي د عصري نصاب هيڅ څرک نه سته. نو بياً د دې دواړو نصابونو په متوازن ډول يوزای کول خورا اړين او د وخت د اړتياوو څخه دي، چي د خپلو اسلامي او ملي ارزښتونو سره سم يو متوازن او پابند نصابه ولرو. د داسي يوه معياري او متوازن نصاب رامنځته کول، د ټولو اړخونو غوښتني پوره کړي، يو څه ننګوني له ځان سره لري، خو دا هڅه به زموږ د تعليمي نظام د پرمختګ او ملي يووالي لپاره خورا ګټور تمام سي. دا څېړنه د کتابتوني ډول څخه په استفاده او د تشريحي مېتود په پيروی سره د علمي ماخذونو څخه ترتيب سوي ده.


**کلېدي کلمي**: ديني ښوونه ، عصري ښوونه، ګډ نصاب، مدرسه او مکتب.

## سريزه

په افغانستان کي د يو پياوړي او منظم نظام نصاب نشتون او د ديني او عصري زده کړو تر منځ موجود واټن، هغه اساسي لاملونه دي، چي زه ئې دې مقالي ليکلو ته وهڅولم. د هيواد تعليمي نظام له اوږدې مودې راهيسي له بېلابېلو ننګونو سره مخ دئ، چي د ديني او عصري زده کړو تر منځ توپير ئې يوه مهمه ستونزه بلل کېږي.

د معارف بنسټيز جوړښت ته په کتو څرګندېږي، چي تر شپږم ټولګيو پوري د زده کړو ګډ نصاب رامنځته کول يوه حياتي اړتيا ده، څو د زده کوونکو فکري، ټولنيز او علمي رشد ته لاره هواره سي.

په همدې موخه په دې مقاله کې هڅه سوې، چې د ديني او عصري زده کړو تر منځ واټن کمولو لپاره علمي، تحليلي او تطبيقي مواد راټول او وړاندې سي، تر څو د تعليمي نظام يووالي ته لار اواره سي او د هيواد راتلونکي نسل ته متوازن او جامع زده کړې برابرې سي. په دې مقاله کې د زده کړې بنسټيز ارزښت ته اشاره سوې ده، د ديني او عصري زده کړو تر منځ د يووالي اړتيا ته ځانګړې پاملرنه کړې او د نصاب د مفهوم پر څرنګوالي تفصيلي شننه سوې ده. همدارنګه د ګډ نصاب د رامنځته کېدو اړتيا ته په علمي او تحليلي بڼه کتنه سوې، تر څو د تعليمي نظام د اصلاح او پرمختګ لپاره منطقي او مؤثري حل لارې وړاندې سي.

## د څېړني اهداف

1. موخه دا ده چې په هيواد کې يو داسي ټول منلی تعليمي نصاب رامنځته سي، چې د ديني او عصري زده کړو اړتياوې په متوازنه توګه پوره کړي.
2. دا نصاب بايد د علمي معيارونو پر بنسټ جوړ سي، ترڅو زده کوونکو ته د معاصر علم، تخنيک او ديني ارزښتونو زده کړې ته يو واحد او مناسب تعليمي چاپېريال برابر کړي.
3. د دې ګډ نصاب له لارې به هغه ستونزې حل سي، چې د جلا تعليمي سيستمونو له امله رامنځته سوي دي.
4. دغه نصاب به د زده کوونکو د فکري او علمي پرمختګ لامل سي او هغوی ته د پوهې پراختيا زمينه برابر کړي.
5. د دې ګډ نصاب رامنځته کول د ټولنې د يووالي او همرغۍ لپاره اغېزمن ګام دئ.

## د څېړني پوښتني

1. د ديني او عصري زده کړو د ګډ نصاب رامنځته کېدل د زده کړې پر کيفيت او زده کوونکو فکري ودې څه اغېز لري؟
2. په ابتدايي ښوونځيو کې د ديني او عصري مضامينو يو ځای تدريس کول د زده کوونکو د ټولنيز، اخلاقي او علمي پرمختګ لپاره څومره ګټور تماميداى سي؟

## مواد او کړنلاره

دا څېړنه د معتبرو علمي منابعو پر بنسټ، د تشريحي مېتود او کتابتوني ډول په کارولو سره تدوين سوې ده، ترڅو د موضوع اړوند ژور علمي او تحليلي بحث ته لاره هواره کړي.

## تحليل او مناقشه

دلته به د زده کړو پر عمومي ارزښت لږ بحث وکړو، ځکه زده کړه، د يو شخص د پرمختګ لپاره اړينه ده، د ټولني د بنسټيزو اړتياوو يوه ستره برخه هم جوړوي.( طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلى كُلّ مُسْلِمٍ) زده کړه پر هر مسلمان فرض ده. چي دا د انسانانو د معنوي پرمختګ لپاره يوه نه هيرېدونکې غوښتنه ده. د عصري زده کړو اړتيا په اوسني وخت کي د ژوند د پرمختګ او د ټولنيزو، علمي او اقتصادي ستونزو د حل لپاره خورا ضروري ده. د دې دواړو اړخونو په يو ځای کولو سره د يوه پوخ او پرمختللي نسل روزنه ممکنه کېږي.

(د ماشوم بل حق پر مور او پلار او ټولنې د هغوی ښوونه او روزنه ده، چې دوی به په ګډه دا حق ادا کوي، له مور او پلار نه نيولې تر ټولنې او حکومت به د ښوونې او روزنې د زمينې په برابرولو کې زيار وباسي.« يا أَيّهَا الّذينَ آمَنُو اقُوا أَنْفُسَكُمْ وَ أَهْليكُم ناراً(تخريم-٦)» ژباړه: ای مومنانو! تاسې خپل ځانونه او خپل اهل او اعيال د اور وژغورئ،)(نا صر، ۱۳۹۳؛ ۲۹-۳۰). د پورته آيت شريف ژوره معنا د انسان د ژوند يوه مهمه وجيبه څرګندوي، چي هغه د خپل ځان، کورنۍ او ټولني د ښووني او روزني د اصلاح مسؤليت دئ. په دې آيت کي پر مومنانو ږغ سوی، چي خپل ځانونه او خپلي کورنۍ له اوره وژغورئ، د دې وجيبي ترسره کول يوازې د مور او پلار کار نه دئ، بلکي ټولنه او حکومت هم په دې مسؤليت کي شريک دي. هغوی بايد د پوهي داسي فرصتونه برابر کړي.

( تعليم او تربيه يو ټولنيز عمل دئ، چي اشخاص ئې د چاپېريال تر اغيزې او نفوذ لاندي غوره کړي او هغوی تر ضوابطو لاندي« په ځانګړي توګه ښوونځی» نيسي، تر څو ټولنيزې وړتياوي، زده کړي او د فردي نهايي اندازه ودې او تکامل ته ورسېږي)(علومو اکاډمي، ۱۳۸۹؛ ۷۵۳). تعليم او تربيه د انساني ژوند لپاره يو بنسټيز ټولنيز عمل دئ، چي د فرد په روزنه او ټولنيزې وړتياوو په لوړولو کي مهم رول لوبوي. په دې بهير کي چاپېريال ځانګړی اغېز لري، ځکه چي انسان د خپلو

شاوخوا خلکو او ټولني تر نفوذ لاندې روزل کېږي. ښوونځی د يې پروسي منظم مرکز دئ، چې د افرادو د علمي، اخلاقي او ټولنيزو وړتياوو د پرمختګ لپاره ټاکلي ضوابط وړاندي کوي.

## ديني زده کړه

ديني زده کړه زموږ د هيواد له مهمو ارزښتونو څخه ګڼل کېږي، د هر مسلمان د ژوند برخه ده پر نر او ښځه فرض ده. په دې برخه کې د قرانکريم، د حديثونو زده کړه او د فقهي اصولو پوهه شامله ده، کوم چې د اسلامي ژوند لارښودونه وړاندي کوي. (د تعليم حق يو د هغه شرعي حقوقو څخه دئ، چې د هغه په حاصلېدو سره ساکن نفوس په حرکت او د دولت د پرمختګ او ترقی سبب او شخص لپاره چې مسلمان وي دنيوي او اخروي کاميابي کېدای سي. څکه په قرآني نصوصو کې د مجادلي سورت يوولسم(۱۱) آيت، د فاطر سورت اته ويشتم(۲۸) آيت او د التوبه سورت يو سلو دوه ويشتم(۱۲۲) آيتونه په صراحت سره د علم فضيلت ته اشاره کوي. علم د اسلام هغه بنياد او اساس تشکيلوي، چې د فرضي علم کسبول ئې په هر وګړي باندي لازمي کړې ده)(بېلا بېل ليکوالان،۱۳۹۲؛۳۳). ديني زده کړه د منلو يو فطري او طبعي بهير دئ، چې استدلال ته اړتيا نه لري، څکه دا ارزښتونه او اصول د الهي وحي پربنسټ ولاړ دي. دا زده کړه زموږ د ايمان د تقويت، اخلاقو د جوړښت او د انساني ژوند د لارښودني لپاره بنسټيز اهميت لري.

## عصري زده کړه

عصري زده کړه هغه اړينه او بنسټيزه پروسه ده، چې د منطق او استدلال په مرسته د ژوند اړتياوې درک کوي او د پرمختګ لپاره لارې چارې وړاندي کوي. دا زده کړه د انسانانو له خوا د ايجاد سوو امکاناتو او موندنو په اړه معلومات وړاندي کوي، چې د ټولني په اقتصادي، علمي او تخنيکي پرمختګ کې مهم رول لوبوي. ( او په مبارک آيت کې خالق تعالی د ځمکې او آسمانونو له نورو شيانو څخه د اوسپني نعمت ته يوه ځانګړې پاملرنه کوي او د دې عنصر قوت، صلابت او ګټو ته زموږ پام ور اړوي، چې د ژورناليزم د وسايلو په جوړولو، کارولو، چاپولو، ليږدولو، خپرولو، لېدلو، اورېدلو، ثبتولو او داسي نورو برخو کې هم ترې د پام وړ ګټه اخيستل کېږي او په مجموع کې د ټولني د بېلابېلو ستونزو د حل په موخه کارول کېږي او ټولنه ورته ډېره زياته اړتيا لري:« وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَاس شَدِيدٌ وَ مَنَافِعُ لِلنَّاسِ»(۳۲) ژباړه: موږ رالېږلي ده اوسپنه، چې په دې کې سخته قوت ډېره پياوړتيا او د خلکو لپاره ګټې دي.)( ناظم، ۱۳۹۱؛ ۳۶). د عصري زده کړو موخه د هغو مهارتونو

او پوهو ترلاسه کول دي، چې د انساني ژوند د آسانتيا، نوښت او نړيوال پرمختګ لپاره کارول کېږي. دا زده کړه د فردي وړتياوو د ودې لپاره او همداسي د ټولني د عمومي پرمختګ لپاره هم اړينه ده.

(اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ عِلْمًا نَّافِعًا، اې الله ج ! زه ستا څخه د نفع رسوونکي علم غوښتنه کوم)(مدني، ۵۶:). د پورته دعا ژوره معنا د علم د ارزښت او د هغه د موخي په اړه ښکاره لارښوونه کوي. هر هغه علم چې د انسان لپاره ګټور وي او د دنياوي او اخروي ژوند ښه کړي، په حقيقي ډول ارزښت لري. د (علم نافع) مفهوم د هغه علم پر بنسټ ولاړ دئ، چې انسان ته د ښه عمل، تقوا، اخلاقو او د انسانانو د ګټي لپاره لارښوونه وکړي. ګټور علم هغه پوهه ده، چې د انسان کردار، د ټولني پرمختګ او د الهي رضايت لپاره کار وکړي. په دې دعا کي، دا دعا د زده کړې موخه د عبادت، خدمت او د ژوند په ټولو برخو کي د الله د رضا ترلاسه کول دي.

**نصاب**

( نصاب: عربي کلمه ده، په لغت کي د مقرر او ټاکلي حد په معنا او د مال اصل، چې هغه حد ته ورسېږي، چې زکات پرې واجبېږي... تعليمي نصاب: هغه ښوونيزې نخښې او ټاکل سوي مواد او مفردات دي، چې شاګردان د تعليم اهدافو ته رسوي)(علومو اکاډمي، ۱۳۹۷؛ ۹۲). که د ټاکلو مفرداتو په اړه ځانګړې پاملرنه وسي او هغه څه وړاندي سي، چې هم د مدرسي او هم د مکتب مضامينو ترمنځ انډول په نظر کي ونيسي، نو په دې توګه د هدفونو ترلاسه کول اسانه کېږي.( ښوونيز واحد نصاب هغه معيار دئ، چې د عمومي او خصوصي ښووني او روزني کلي موخي تثبيتوي او پر بنسټ ئې د پوهني وزارت د درسي کتابونو ښوونيز مفردات، زده کړې ډول او درسي ممدو وسايلو روزنه برابره او تنظيموي.)( عدليه وزارت، ۱۳۹۲؛ ۱۲۷).

دا يو اړين ګام دئ، چې د تعليمي سيستمونو تر منځ توازن او همږغي رامنځته کړي، ترڅو د زده کوونکو لپاره د علم پراختيا يو متوازن او جامع لاره وړاندي سي. د دې توازن په مرسته، موږ کولای سو د ديني او عصري تعليم ترمنځ يو همږغي او ګډه موخه تعريف کړو.

**ګډ نصاب**

ګډ نصاب د ديني او عصري علومو هغه متوازن او ګډ تدريسي بهير ته ويل کېږي، چې موخه ئې زده کوونکو ته د ديني ارزښتونو او عصري مهارتونو په يوه چوکاټ کي وړاندي کول دي. دا نصاب

هڅه کوي چې ديني اصول او عصري اړتياوې په داسي ډول سره یوځای کړي، چې د دواړو اړخونو تعليمي او روزنيزې اړتياوې پوره کړي. اصلي هدف دا دئ چې يو داسي نصاب جوړ سي، په هغه کي هم د قرآن، حديث او فقهي علومو زده کړه شامله وي او هم د ساينس، رياضياتو او نورو عصري علومو اړين اړخونه پوښلي وي. دا ډول نصاب د زده کوونکو د فکري، اخلاقي او علمي ودې زمينه برابروي.

په انسان ژوند کي ابتدايي زده کړې خورا مهمي او اساسي ګڼل کېږي. په دې پړاو کي د ماشوم ذهن د سپيني پاڼې په څېر وي، چې هر څه ورته نوي او نا اشنا ښکاري. دغه مرحله د عقيدې، ټولني او اړتياوو د پېژندني د بنسټيزي ودې پړاو دئ. که په دې مرحله کي ماشومانو ته لازمه پاملرنه وسي او د هغوی ښوونه او روزنه په سمه توګه ترسره سي، نو د هغوی ذهن او فکر به د پرديو اغېزو څخه خوندي پاته سي. دا دوره د شخصيت جوړوني او فکري ودې لپاره يو بنسټيز وخت دئ. که د خپلو هيواد ماشومانو ته په دې پړاو کي سالمه روزنه ورکړل سي، د هغوی د ديني، اخلاقي او ټولنيزو ارزښتونو پياوړې سي، نو هغوی به د خپلې ټولني لپاره يو ګټور او مثبت وګړي جوړ سي. خو که د دې پر ځای ماشوم د خپلي ټولني او هيواد پر وړاندې دښمن وروزل سي دا به يوه لويه ضايعه وي.

(ځکه چې دا دزده کړې هغه دوره ده، چې پکې د انسان د فکري، جمسي، اخلاقي او ټولنيز سالمي ودې بنسټ اېښودل کېږي نو له همدې امله دا دوره د ښوونې او روزنې د پوهانو ، ښوونکو او روزنکو د زياتې پاملرنې وړ ګرځېدلې ده.)(تايب، ۱۳۹۹؛). په ابتدايي دوره کي ماشومانو ته د ملي او ديني ارزښتونو ښودل، هغوی ته د خپل هويت پېژندنه او د سالمي ټولنيزې ودې لارښوونه کول زموږ يوه اساسي دنده ده. دا د راتلونکي نسل لپاره د بريالۍ ټولني بنسټ اېښودل دي. که موږ په دې برخه کي بريالي سو، نو لوی خدمت به مو ترسره کړی وي.

(دريم شرط دا دی، چې د دواړو کايناتي او انساني علومو پوهه دې يو ځای راټوله او د يو کامل ذهن خاوند دې په صحيح شکل کې مرتب کړي او له دوی څخه د صحيح استدلال کولو نه وروسته دې انسان لپاره د اخلاقي ارزښتونه، د تمدن اصولو او قوانينو او د ګمراهۍ څخه دې د ساتنې په خاطر حدود او پولې وټاکي)(مودودي، ۱۳۸۸؛ ۱۶۲).

دا اقتباس د علم د اهميت او د هغه د سمي کاروني په اړه خورا مهم پيغام لري. مولانا سيدابوالاعلی مودودي په دې بيان کي ټينګار کوي، چي د کايناتي (فطري) او انساني (ټولنيزو ) علومو تر منځ همږغي اړينه ده، ترڅو انسان د ژوند په هر اړخ کي پوره پوهه او حکمت ترلاسه کړي. ( زده کړه د بشريت په واسطه سره د حقايقو او فرهنګي ارزښتونو د مجموعي لېږد ته ويل کيږي، يا زده کړه په يو ځانګړي ځای کي د ټاکلي موخي ته د يوې جوړي سوي لاري څخه تر سره کيږي.)(نظري، ۱۳۹۵؛۴۲). دا پروسه د پوهېدلو او معلوماتو ترلاسه کولو معنا لري، همداسي د يوه هدفمند پرمختګ لپاره يو تنظيم سوی بهير هم بلل کيږي.

زده کړه د بشري ټولنو د ودې او پرمختګ لپاره اساسي وسيله ده، ځکه دا د نسلونو تر منځ د تجربو او ارزښتونو د لېږد مخکښ رول لوبوي. د تدريس اصول او مېتود کتاب کي داسي د زده کړي تعريف راغلی دئ. ( ارواپوهان زده کړه داسي تعريفوي: د زده کوونکو په بالقوه رفتار کې د نسباً دايمي تغيراتو رامنځته کول، په دې شرط چې دا تغيرات د تجربې پر بنسټ رامنځته شي.)(درمل، حسن خان، ۱۳۹۵؛۲۱). دا تعريف د دې څرګندونه کوي، چي زده کړه يوازي د معلوماتو ترلاسه کول او د فکر کولو، کړنې او چلند په ډګر کي د پايداره بدلون يو بهير دئ او د تجربو اهميت په دې پروسه کي اساسي دئ، همدارنګه دا تعريف د زده کړي د اوږد مهاله اغېز پر اړتيا ټينګار کوي.

## د نصاب محتوا

د نصاب جوړښت بايد د ديني او عصري علومو ترمنځ يو متوازن او همږغي تناسب ولري، ترڅو د ټولني د اړتياوو سره سمون ولري. اصلي موخه دا ده، چي په ديني برخه کي هغه څه ځای پر ځای سي، چي د زده کوونکو د استعدادونو سره په کامل ډول سمون ولري. د مثال په توګه په ابتدايي صنفونو کي د قرآن په زده کړه کي لومړی بايد د حروفو سم تلفظ او تجويد په ښه توګه زده کړل سي، مخکي له دې چي د قرآن زده کړه وکړي. که مکتب ته سر ورښکاره کړو، نو بايد په لومړيو ټولګيو کي د حروفو زده کړه، د اعدادو سره اشنا کول مخکي له دې څخه چي متن لوستنه وکړي او يا د رياضي عمليه اجرا کړي.

( د ښوونې او روزنې اکثره ماهران وايي، چې د ماشومانو کتابونه د محتوا له اړخه معمولاً دغه څلور ډوله اړتياوې پوره کوي. الف، عاطفي اړتياوې: ماشوم غواړې، چې امن احساس کړي، ځان خوندي ووينې، په يو چا ګران واوسي يا يو څوک ورباندي ګران وي. ب، عقلاني اړتياوې: ماشوم

ته په ذهن کې ډېرې پوښتنې ورتېرېږي، دا تياره ولي راځي؟ دا اسمان څنګه ولاړ دی؟ او داسي نور. ج، د تفريح اړتيا: هر انسان تفريح ته ضرورت لري، خو ماشوم ته ټول ژوند تفريح ښکاري. دال، ذوقي اړتيا: ادبيات د ماشوم د تخيل او ښکلا تنده ماتوي او ښکلا ذوق يې روزي)(غضنفر، ۱۳۹۳؛ ۴۳۴). که موږ د خپل نصاب په اړه ژور تحقيق وکړو، نو څرګنده به سي چي زموږ په ښوونيز نظام کي د زده کوونکو اړتياوي له پامه غورځول سوي او پر ځای ئې د لويانو غوښتني او لومړيتوبونه په پام کي نيول سوي دي. دا تګلاره د دې پر ځای چي د زده کوونکو د وړتياوو په وده او د هغوی د راتلونکي په جوړولو تمرکز وکړي، د ښوونکو او ادارو شخصي ګټو ته ډېر پام اړوي، چي پايله ئې د زده کړې پر موثريت منفي اغېز کوي.

د مکتب او مدرسي د پښتو مضمون کتابونه که څه هم په دوه جلا تعليمي سيستمونو کي برابر سوي، خو د دوی عمومي موخي او پيغامونه په ګڼو برخو کي ورته والی لري. دواړه د زده کوونکو فکري، اخلاقي او ديني ودې ته ځانګړې پاملرنه کوي او هڅه کوي چي هغوی د سالم ژوند لپاره چمتو کړي.

**د مکتب او مدرسي د لومړي ټولګي پښتو کتابونو منځپانګه**

**د مکتب د لومړي ټولګی پښتو:** د مکتب د لومړي ټولګي د پښتو کتاب پر وقايه د ښوونکي او زده کوونکي انځور سوي، چي د زده کړې چاپېريال ته لومړنی اشاري ورکوي. د کتاب منځپانګه په پيل کي د ماشومانو د ورځني ژوند اړوند انځورونه، لکه مېوې، مرغان، لوبې، ډوډی خوړل، کتابونه، مکتب، ميز، حيوانات او کورنی ژوند وړاندي کوي. دا انځورونه د زده کوونکو لپاره په زړه پوري او د دوی د پوهي وده کي اغېزمن دي. په ۱۴ پاڼه کي د الف "ا" توری د زور، زير او پېښ سره ښودل سوي او د مسجد، محراب او امام انځورونه ورسره کښل سوي دي، چي د ديني اړخونو يادونه کوي. وروسته د الف او ل ترکيبونه ښودل سوي او په دې تړاو د مسجد او لمونځ کوونکو انځورونه راوړل سوي دي. د هر توري د پېژندني لپاره ځانګړې مواد او انځورونه چمتو سوي، چي د کتاب تر پايه (۱۶۸ مخ) همدا لړۍ دوام لري(د پوهني وزارت، ۱۳۹۸؛۱- ۱۴).

**د مدرسي لومړی پښتو:** د کتاب پر وقايه کي د افغانستان اسلامي دولت او د ښووني او روزني وزارت يادونه سوې ده. د کتاب لومړی پاڼه کي الله ج يو دئ، په دوهمه پاڼه کي د ب (بابا) چي بابا قرآن شريف وايي، قرآن شريف د الله ج کتاب دی. د کتاب منځپانګه په جملو سره پيل سوي

ده، پرته له دې چې په پيل کې الفبا معرفي کړي. دا لړۍ تر ۴۸مخ پورې ادامه لري، د کتاب ټول مواد ديني محور لري او د زده کوونکو د ديني پوهاوي د لوړولو لپاره ځانګړې سوي ده(کامران، د چاپ کال نه دې ورکړی؛ ۱،۲،۴۸).

د مکتب د پښتو کتاب منځپانګه د ماشومانو ټولنيزې، علمي او ديني ودې لپاره ښه ترتيب سوې ده. د ژوند اړوند موضوعاتو انځورنه او د تورو پېژندنه د ماشومانو په زده کړې کې مرسته کوي، ځکه چې د ماشومانو د درک کولو وړ موضوعات وړاندې کوي. دا کتاب د زده کوونکو لپاره متوازن درسي مواد لري، چې د هغوی د علمي او اخلاقي روزنې لپاره مناسبه ده. د مدرسې کتاب بيا يوازې ديني ارزښتونو ته متمرکز دئ. د کتاب پيل په ديني جملو سره کېږي. دا ډول منځپانګه د ماشومانو ديني پوهې لپاره ګټوره ده، خو د هغوی ټولنيزې ودې اړوند اړخونه ئې له پامه غورځولي دي.

**د مکتب د دوهم صنف پښتو:** د کتاب وقايه د ښوونکي يوه تدريسي حالت انځور سوی دئ، چې د زده کړې په چاپېريال ټينګار کوي. د الفبا ترتيب د کتاب په لومړيو برخو کې په اغېزمن ډول وړاندې سوی، د ماشومانو د پوهې لپاره د انځورونو وړاندې سوې دي. د کتاب د منځپانګې لومړۍ برخه د (الف) او د انار انځور سره پيلېږي، چې وروسته د الله جل جلاله پېژندنه سوې ده او د مکې شريفې يو انځور هم سته. د کتاب ټول منځپانګه د ماشومانو د ورځني ژوند اړوند موضوعاتو باندې متمرکزه ده، چې د هغوی ټولنيز او اخلاقي روزنې لپاره مناسبه ښه ده، رنګه انځورونه لري چې د ماشومانو د توجه راجلبولو لپاره ګټور دي او د زده کړې لپاره ئې جذابيت زياتوي(پوهنې وزارت، ۱۳۹۸؛۱، ۵).

**د مدرسې د دوهم صنف پښتو:** د مدرسې د دوهم صنف پښتو کتاب پر وقايه د( پښتو، د دوهم ټولګي لپاره) په غټو تورو ليکل سوی دئ. کتاب په حمد سره پيل کېږي او په دوهمه پاڼه کې د حمد لغاتونه تشريح سوي دي. د کتاب منځپانګه تر پايه د ديني موضوعاتو په محور څرخې، چې د ديني ارزښتونو په معرفي کولو تمرکز لري. د دې کتاب ټول ترتيب او منځپانګه د اسلامي اصولو په تدريس او زده کوونکو ته د ديني ارزښتونو په پوهولو کې ځانګړی سوې ده(آمير حمزه، نه ئې لري؛ ۱،۲،۳). د دواړو کتابونو منځپانګه د دوی د ځانګړو تدريسي موخو ښکارندوی ده، د مکتب پښتو کتاب د ماشومانو په ټولنېزې، اخلاقي او علمي روزنې باندې ټينګار کوي په داسې حال کې چې د ژوند اړوند ورځني موضوعات په منظمه توګه وړاندې کوي. انځورونه د کتاب جذابيت

زیاتوي او د ماشومانو د علاقې لپاره د پام وړ دي. دا ډول منځپانګه زده کوونکو ته د زده کړې تر څنګ ټولنیز مهارتونه هم ورزده کوي. برعکس د مدرسي کتاب بشپړ ديني محور لري او د ديني اصولو په ژوره معرفي باندې تمرکز کوي. د ديني اصطلاحاتو تکرار د دې کتاب اصلي ځانګړنه ده، که څه هم دا د ديني زده کړو لپاره ګټوره ده، خو د ټولنیزو اړخونو او ماشومانو د ژوند اړوند موضوعاتو ځای نلري.

**د مکتب او مدرسي د دریم ټولګي پښتو:** د مکتب او مدرسي د دریم ټولګي: د پښتو کتابونو منځپانګه د دوی د موخو او تدریسي فلسفې په رڼا کې توپیر لري، په مکتبي کتاب کې د الله جل جلاله د لويي او عظمت بیان، د حضرت محمد ﷺ پېژندنه او ټولنیز ژوند ته اړوند موضوعات ځای پر ځای شوي دي. دا ډول منځپانګه د دې څرګندونه کوي، چې مکتبي نصاب د ديني او ټولنېزو ارزښتونو تر منځ د توازن راوستلو هڅه کوي، ترڅو زده کوونکي هم په ديني او هم په ټولنېزو موضوعاتو پوه کړي( پوهني وزارت، ۱۳۹۹؛ ۱،... ۱٦۸).

**په مقابل کې، د مدرسي د دریم ټولګي:** په مقابل کې د مدرسي د دریم ټولګي: د پښتو کتاب لومړی حمد او نعت سره پیل کېږي، وروسته د حضرت محمد ﷺ پېژندنه او بیا د یارانو پېژندنې راغلي دي. د دې کتاب ټوله منځپانګه پر ديني موضوعاتو راڅرخي، چې د مدرسي نصاب ځانګړی تمرکز په ډاګه کوي، زده کوونکو ته د ديني ارزښتونو او اسلامي اصولو په ژوره توګه معرفي کړي(پوهني وزارت؛ ۱،۲،٦).

**پرتلنه**

**منځپانګه:** د مکتب کتابونو منځپانګه د ديني او ټولنیزو موضوعاتو ترکیب لري، چې د زده کوونکو په فکري او ټولنېزې ودې تمرکز لري. برعکس، د مدرسي کتاب په بشپړه توګه ديني موضوعاتو ته ځانګړی سوی او د اسلامي ارزښتونو په پراخولو ټینګار کوي.

**هدف:** مکتب د زده کوونکو لپاره د ديني او عصري علومو د ګډوالي لاره پرانیزي، ترڅو هغوی د ديني زده کړو ترڅنګ ټولنیزې او اخلاقي پوهې ته هم لاسرسی ولري. مدرسه بیا د ديني علومو پر ژورتیا او زده کوونکو ته د اسلامي اصولو په تدریس متمرکزه ده.

**ښکاره توپیرونه**: د مکتب کتاب د ټولنېزو مهارتونو او د ژوند اړوند پوهاوي ته ځانګړې برخه ورکوي، پداسې حال کې چې د مدرسي کتاب په ديني موضوعاتو تمرکز لري او پر ټولنېزو اړخونو

لږه يا هيڅ توجه نه کوي. د مکتب او مدرسي د لومړي، دوهم او دريېم ټولګيو د پښتو کتابونو تر منځ د منځپانګي، موخو او تدريس په لارو چارو کې د پام وړ توپيرونه او ځيني ورته‌والى لېدل کېږي. دا ځانګړتياوې د دواړو سيستمونو د اهدافو او جوړښتونو بېلابېلو لېدلورو ته اشاره کوي. دلته به هر برخه په جلا جلا ډول بيان کړو.

**د ديني ارزښتونو شتون:** دواړه مکتب او مدرسه د الله ج د لويي، حمد، نعت او د رسول الله ص پېژندني په بڼه ديني موضوعات لري، دواړه سيسيمونه هڅه کوي چې زده کوونکي د اسلامي ارزښتونو سره بلد کړي، د دې ورته والى يوه بله نښه دا ده چې زده کوونکو ته د ديني محتوا د زده کړې اړتيا په يو ډول څرګنده سوې ده.

**د اخلاقو روزنه:** د دواړو کتابونو کې د موضوعاتو يوه برخه د ماشومانو په اخلاقو، ټولنيزو ارزښتونو او د ژوند اصولو باندې تمرکز کوي، زده کوونکو ته ښوول کېږي چې څنګه په کورني او ټولنېز ژوند کې خپل رول په ښه ډول ترسره کړي.

## توپيرونه

### د منځپانګي تمرکز

**مکتب:** د مکتب کتابونه د ژوند د بېلابېلو اړخونو، لکه د ماشومانو روزمره ژوند، ټولنيزي اړيکې او الفبا پېژندني ته ځانګړې پاملرنه کوي. د دې کتابونو منځپانګه د زده کوونکو د ټولنېزي او علمي ودې لپاره متوازنه ده.

**مدرسه:** د مدرسي کتابونه په بشپړ ډول د ديني زده کړو لپاره ترتيب سوي دي، نورو موضوعاتو ته ډېره لږه پاملرنه سوې ده، منځپانګه ئې تر ډېره د ديني ارزښتونو او اسلامي زده کړو په اړوند ده.

**د تدريس ترتيب:** په مکتب کتابونو کې د الفبا پېژندنه د زده کوونکو لومړنى تمرين دئ، چې وروسته ئې په تدريج سره ديني او ټولنيز موضوعات معرفي کېږي. په مدرسه کې د تدريس پيل له ديني جملو او مفاهيمو سره کېږي، د الفبا زده کړه په دې ترتيب کې ځاى نه لري.

### د موضوعاتو رنګارنګي

د مکتب کتابونه د ماشومانو لپاره له خوځنده او متنوع انځورونو سره غني سوي، چې زده کوونکو ته ئې زده کړه زړه راښکونکې کړې ده، د مدرسي کتابونه بيا يوازې ديني مضامين لري او انځورونه په کې لږ يا هيڅ شتون نه لري.

**د کتابونو د پاڼو شمېر:** د مکتب کتابونه د منځپانګې او پاڼو له مخې ډېر غني دي او پراخه موضوعات رانغاړي، په داسې حال کې چې د مدرسې کتابونه لنډ دي او یوازې دیني محتوا لري.
د مکتب او مدرسې کتابونه دواړه د خپلو ځانګړو موخو لپاره ترتیب سوي دي، خو د زده کوونکو د ټولنيزې او ديني ودې لپاره ګډه تعلیمي تګلاره اړینه ده. مکتب د عصري زده کړو اړتیاوې ښه پوره کوي، خو ديني برخه ئې لږه محدوده ده، مدرسه بیا ديني زده کړو ته ځانګړې سوې ده، خو د ټولنېزې ودې اړخونه ئې له پامه غورځولي دي.
د دې توپيرونو د حل لپاره یو ګډ تعلیمي نصاب باید رامنځته سي، چې ديني او عصري زده کړې په متوازن ډول وړاندې کړي. دا نصاب به د زده کوونکو د علمي، ديني او ټولنيز ژوند اړتیاوې په یو وخت کې پوره کړي او د یوې پرمختللې ټولنې د جوړېدو لپاره بنسټ کېږدي. د مکتب او مدرسې اړوند ديني تدرسي کتابونه د لومړي، دوهم او دریم ټولګیو لپاره په لاندې ډول درته تشریح کوو.

## لومړی ټولګی:

**د قرآن کریم زده کړه او اسلامي ښوونه او روزنه:** په لومړی پاڼه کې د الفبا توري له (الف څخه تر خا) پوري په منظم ډول کښل سوي دي، چې موخه ئې د دې تورو آواز او بڼې زده کول دي، دا لړی تر پنځم مخ پورې په تسلسل سره پر مخ ځي، په کتاب کې د زده کړې لپاره یو منظم ترتیب موجود دئ، چې په لاندې ډول سره دي.
**د لومړنیو تورو زده کړه:** د لومړیو مخونو په تسلسل کې دغه عنوانونه راغلي دي: ټکي لرونکي، بې ټکو، نیم توري، زور، زېر، او پېښ لرونکي توري په تسلسل سره وړاندې سوي دي. هره برخه ئې د تمرینونو سره مل ده، ترڅو زده کوونکي وکولای سي د تورو په پېژندنه او لیکنه ئې مهارت ترلاسه کړي.
**د ديني زده کړو پیل:** په ۲۵ مخ کې د «أعوذُ باللهِ منَ الشّیطانِ الرّجیم» کلمه د زده کوونکو لپاره په حروفو وړاندې سوې ده.
په ۲۶ مخ کې «بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحیم» د زده کړې لپاره په حروفو راغلې ده، په ۲۷ مخ کې د فاتحې سورت د زده کړې لپاره په حروفو ترتیب سوی او وروسته د دې سورت بشپړ متن وړاندې سوی دئ(پوهني وزارت، د چاپ کال نه لري؛ ۱،۲۵،۲۶،۲۷).

**بشپړه سورتونه:** د فاتحې سورت وروسته د اخلاص، الفلق او الناس سورتونه راغلي دي، چې د زده کوونکو ديني پوهې د پراختيا لپاره يو مهم ګام دئ. د الله جل جلاله په اړه عمومي معلومات، د کلمې طيبي تشريح او د دين مفهوم په اسانه او لنډ ډول وړاندې سوي ده، ترڅو زده کوونکي د ديني مفاهيمو ابتدايي پوهه ترلاسه کړي.

**د ديني او اخلاقي زده کړو تسلسل**

کتاب د ديني، اخلاقي او ټولنېزو اړخونو زده کولو ته ځانګړې سوی دئ. د ديني موضوعاتو سره د تمرينونو او عملي زده کړو مواد هم شتون لري، چې زده کوونکي وهڅوي ترڅو خپل ديني ارزښتونه په ورځني ژوند کې عملي کړي. په عمومي ډول د کتاب جوړښت په داسي ښه ترتيب سوی، چې لومړني توري او د هغوی آوازونه زده کول د زده کوونکو لپاره اسانه کړي دي. سربېره پر دې ديني سورتونه او عمومي معلومات په تدريجي ډول وړاندې سوي دي، ترڅو زده کوونکي په متوازن ډول ديني او علمي زده کړې ترلاسه کړي. د دې ترتيب هدف د زده کوونکو ديني، علمي او اخلاقي وده ده، ترڅو دوی د اسلامي اصولو سره سم ژوند کولو ته چمتو سي.

**دوهم ټولګی:**

**د قرآن کريم زده کړه او اسلامي ښوونه او روزنه**

**د کتاب محتوا او جوړښت:** په لومړي او دوهمه پاڼو کې د (قرآن کريم د تلاوت ادبونه) تر سرليک لاندې په اته (۸) ځانګړو ټکو کې د تلاوت آداب په منظم ډول تشريح سوي. دا برخه د زده کوونکو لپاره د قرآن کريم د درناوي او تلاوت پر مهال د لازمو اصولو زده کړه په ښه کوي. په دريمه پاڼه کې د ( درې ګړني حرکات) تر سرليک لاندې د الفاظو د ادا کولو د اساسي اصولو پېژندنه وړاندې سوې ده. په دې برخه کې د دغه تورو ټولګه شامل ده: (اَ اِ اُ ... ىَ ىِ ىُ) دغه توري د حروفو د حرکتونو د درست تلفظ لپاره په ساده او اسانه ډول تشريح سوي دي.

**تسلسل او تنظيم:** دا تسلسل له دريمي پاڼې پيل او تر ۱۹م مخ پوري په دوامداره توګه د حروفو د زده کړې لپاره مواد وړاندې کوي. د زده کوونکو لپاره هره برخه د تمرينونو او بيلګو سره مل ده، چې د زده کړې بهير اسانه کوي.

په ۱۹ مخ کې د ( سورت اخلاص ) هجایي لوستل ځای پر ځای سوي ده، ترڅو زده کوونکي د قرآن د سورتونو تلفظ او لوستلو مهارت ترلاسه کړ.. د نورو قرآني سورتونو لوستل د دې تسلسل په تداوم تر ۲۶ مخ پورې دوام لري.

**د دیني معلوماتو شمولیت:** د کتاب په پای کې عقېده، طیبه کلمه، ایمان او نور اړوند دیني موضوعات په اسانه او ترتیب سوي ډول وړاندې سوي دي. دا برخه د زده کوونکو لپاره د دیني بنسټونو په پېژندنه او عملي زده کړه کې مرسته کوي. د کتاب ټول مواد د دیني ارزښتونو په عملي کولو او د اسلامي روزني په خپراوي باندې تمرکز لري.

دغه کتاب په داسي ترتیب سره جوړ سوی، چي د قرآن کریم د تلاوت آدابو، د حرکاتو د درست تلفظ، د قرآني سورتونو زده کړه او دیني معلوماتو زده کړه په منظمه بڼه وړاندې کړي. د کتاب هدف دا دئ چي زده کوونکي د اسلامي تعلیماتو په رڼا کې زده کړه وکړي او په عملي توګه د دیني اصولو پلي کولو ته وهڅول سي.

**درېیم ټولګی:**

**د قرآن کریم زده کړه او اسلامي ښوونه او روزنه**

**د کتاب محتوا او جوړښت:** په لومړۍ او دوهمه پاڼو کې مفصل ایمان په پراخه توګه تشریح سوی دئ، چي د ایمان اساسي اصول او د مسلمان په ژوند کې د هغوی اهمیت په روښانه او روانه بڼه بیانوي. دغه برخه زده کوونکو ته د ایمان بنسټونه په سمه توګه معرفي کوي او هغوی ته دیني درک پیاوړی کوي. په درېیمه او څلورمه پاڼو کې د تمجید کلمه ځای پر ځای سوې ده، چي د الله جل جلاله په لویي او صفاتو ټینګار کوي. د تمجید کلمه په داسي بڼه وړاندي سوې، چي زده کوونکي د توحید په مفهوم او د الله ج په لویي او عظمت ښه پوه سي( پوهني وزارت، ۱۳۹۶؛۱....، ۷۷).

د کتاب په منځني برخو کې د لمانځه اړوند ټول موضوعات په تفصیل سره بیان سوي دي، د لمانځه ارکان، شرایط، آداب او طریقه په داسي ډول تشریح سوې، چي زده کوونکي ئې په اسانه زده کړي او په عملي توګه ئې په ورځني ژوند کې تطبیق کړي.

**ټولنیز موضوعات**

**د چاپېریال پاکي:** د شاوخوا چاپېریال د پاک ساتلو اهمیت او عملي لارښووني.

د خلکو سره ښه چلند: د اخلاقي اصولو په رڼا کې د نورو سره د ښه چلند اصول او د ټولنيز ژوند ادبونه.

**نور ټولنيز بحثونه:** د ښو ټولنيزو ارزښتونو روزنه چې زده کوونکي ئې د يو مسؤل او ګټور فرد په توګه خپل کړي.

دغه کتاب د ديني روزني او ټولنيزو اخلاقو تر منځ توازن رامنځ ته کوي. د ايمان مفصل تشريح د لمانځه لارښووني او ټولنيز بحثونه ټول په داسې ترتيب وړاندې سوي، چې زده کوونکي په ديني او اخلاقي لحاظ وده وکړي او د ټولني فعاله او مسؤله برخه وګرځي. د کتاب اسلوب ساده، روان او په آسانۍ د زده کړې وړ دئ.

په پورته درې ښوونيزو کتابونو کې ديني موضوعات په تدريجي ډول او د زده کوونکو د عمر او ذهني استعداد مطابق تنظيم سوي دي. د هر کتاب موخه د ديني اساساتو پېژندنه، عملي تطبيق او د اخلاقي ارزښتونو پياوړتيا ده. عمومي پيغام د اسلام دين د بنسټونو پېژندنه، د عباداتو زده کړه او د اخلاقي اصولو ترويج دئ. دا کتابونه د زده کوونکو په فکري وده کې اساسي رول لوبوي او هغوی د يو ديني، اخلاقي او ټولنيز ژوند لپاره چمتو کوي.

**دمدرسو په لومړنيو ټولګيو کې د ديني نصاب اړوند**

**د ماشومانو ديني تعليمات:** د ( ماشومانو ديني تعليمات) کتاب که څه هم په رسمي ډول د مدرسي په نصاب کې نه دئ شامل، خو په غير رسمي ډول په اول، دوهم او درېيمو صنفونو کې تدريس کېږي، دا کتاب د ماشومانو د ديني پوهاوي د زياتولو لپاره يو ساده او اغېزمن جوړښت لري. په کتاب کې ډېر موضوعات د سوال او جواب په بڼه وړاندې سوې دي، چې د ماشومانو د ذهني ځواک د لوړولو او هغوی ته د ديني مفاهيمو په اسانۍ سره د رسولو لپاره اغېزناک مېتود بلل کېږي. دغه طرز نه يوازې د ماشومانو زده کړه اسانه کوي او هغوی ته د عملي ژوند په چارو کې د ديني احکامو او ارزښتونو پوهه هم ور زده کوي(شايق، د چاپ کال ئې نه لري؛ ۱-۳-۶).

د کتاب موضوعات په تدريجي ډول د عقيدې، عباداتو، اسلامي اخلاقو او ټولنيزو ارزښتونو په اړه معلومات وړاندې کوي. دا موضوعات په داسې ډول برابر سوي، چې ماشومانو ته په اسانه، ګټوره او د هغوی د ذهنيت سره سم وي. په عموم کې، د ( ماشومانو ديني تعليمات) کتاب د ديني زده

کړو په لړ کې یو ګټور او ارزښتناک لومړنی ګام بلل کېږي، چې د ماشومانو دیني بنسټ قوي کوي او هغوی ته د اسلامي ژوند اصول په زړه پوري بڼه وړاندي کوي.

**د دیني ښوونیزو کتابونو عمومي ارزونه:** پورته ذکر سوي دیني ښوونیز کتابونه که څه هم په خپل منځ کي له شکلي او محتوایي اړخه توپیرونه لري، خو عمومي هدف او پیغام ئې یو دئ، چي هغه د دیني ارزښتونو زده کړه او د ماشومانو دیني پوهي لوړول دي. دا کتابونه د ماشومانو د ذهني او اخلاقي ودې لپاره خورا مهم بلل کېږي.

په دې کتابونو کې د موضوعاتو وړاندي کولو لارې بېلابېلې دي. ځيني کتابونه په مستقیم ډول نصاب ته تابع دي او په منظم ډول جوړ سوي، خو ځيني نور بیا په غیر رسمي بڼه تدریس کېږي، په مسلکي ډول د مضامینو انتخاب هم په ځینو ځایونو کي کمزوری دئ.

د مثال په توګه ځيني موضوعات د ماشومانو د عمر او ذهني کچي سره مطابقت نه لري، چي دا د زده کوونکو لپاره د درسي موادو د درک ستونزه پیدا کوي. همدا راز د ځینو کتابونو محتوا د ماشومانو ذوق او اړتیا سره سمه نه ده جوړه سوې. که د دې کتابونو د جوړښت او موادو په انتخاب کي منظم پلان او مسلکي معیارونو ته پوره پاملرنه وسي، نو د دې کتابونو اغېز به څو چنده زیات سي او د زده کوونکو دیني او ټولنیزي ودې لپاره به لا ښه بنسټ کېښودل سي.

سربېره پر دې د زده کوونکو سویه او عمر په ځینو برخو کي له پامه غورځول سوی دئ، چي دا په لومړیو ښوونېزو کلونو کي د ماشومانو پر ذهني ودې منفي اغېز کولی سي. دا د دې اړتیا څرګندوي چي د کتابونو په جوړښت کي دې د ماشومانو د ذهني اړتیاوو، ټولنېزو اړتیاوو او دیني غوښتنو ترمنځ یو متوازن ولرو.

## پایله

د دې حېړنېزي مقالې په لیکلو سره، یوه مهمه ستونزه چي د تعلیمي نصاب په برخه کي شتون لري په ګوته سوې. دغه ستونزه نه یوازي د زده کړو کیفیت ته زیان رسوي، همداسي د ټولني پرمختګ ته هم یوه جدي تهدید ګرځېدلی سي. که چېري و غواړو دغه ستونزه او ورته نوري اړتیاوې په سمه توګه حل کړو، نو د مسلکي او تجربي لرونکو کسانو مسؤولیت دئ، چي په دې برخه کي جدي هڅي وکړو. دا کسانو ته په کار دي چي د هیواد په دننه کي د تعلیمي نصابونو تر منځ موجود توپیرونه پیدا او د هغو د حل لپاره عملي او اغېزمني لارې چارې پیدا کړي. د دې ترڅنګ د تعلیمي

نصابونو اصلاح او پرمختګ هغه کلیدي لامل دئ چې په مرسته ئې موږ کولای سو په ټولنه کې یو روښانه، متوازن او پرمختللی تعلیمي چاپېریال رامنځته کړو.

## پای پایله

د هرې څېړنې په پای کې لیکوال یوې موخې ته رسېږي، ترڅو په ښه ډول یادې برخې ته رسېدنه وکړي. زه هم دې نتیجې ته ورسېدم چې په افغانستان کې د مدرسو او مکتبونو تر منځ د نصاب بېلوالي زیاتي ستونزي رامنځته کړي دي، په ځانګړي توګه په فکري او تعلیمي برخو کې چې د هیواد بچیان ورسره لاس او ګرېوان دي. دغه ستونزي له یوې خوا پردیو ته د ناوړې ګټې اخیستنې زمینه برابره کړې او له بلې خوا ئې داخلي بې باوري رامنځته کړې دي. نو په دې اساس اړینه ده، چې د دغه وضعیت د بدلون لپاره نه ستړي کېدونکي هلې ځلې وکړو، ترڅو په هیواد کې یو داسې تعلیمي نصاب رامنځته کړو، چې اسلامي او وطني روحي سره سمبال وي او د نوو نسلونو فکري او علمي اړتیاوي په ښه توګه پوره کړي. دا به زموږ د هیواد د پرمختګ او د ټولنې د سوکالۍ او بریا لپاره خورا مهم وي.

**وړاندیزونه**

1. دا برخه باید په مسلکي ډول وڅېړل شي، ترڅو د تعلیمي نصاب سمون لپاره دقیقې لارښوونې وړاندې کړي.
2. د دې هدف ته د رسېدو لپاره اړینه ده، چې د ديني او عصري زده کړو ترمنځ متوازن نصاب جوړ سي.
3. که د مکتب او مدارسو تدریسي منځپانګې ته سر ورښکاره کړو، نو د لا سمون لپاره خورا زیات کار ته اړتیا سته

## اخځلیکونه


آمیر حمزه. (بې نېټې) .*پښتو د دوهم ټولګی لپاره* .کندهار: آمیر حمزه کتب خانه، ارګ بازار.

بېلابېل لیکوالان. ( ۱۳۹۲). *د بنسټیزو حقوقو پېژندنه* .افغان مارک.

تایب، الکوزی.( ۱۳۹۹). *ښونیزې پلوشې* .جهان دانش خپرندویه ټولنه.

درمل، حسن خان .(۱۳۹۵). *د تدریس مېتود اصول او مېتود* .کندهار: عرفان خپروونکی ټولنه.

عدلیه وزارت.(۱۳۹۲) .*قوانین علمي و فرهنګ* .ریاست نشرات و ارتباط عامه.

علومو اکاډمي.(۱۳۸۹).*اریا نا دایرة المعارف* (دوهم ټوک). د علومو اکاډمي د دایرة المعارف د مرکز ریاست.

غضنفر، اسدالله.(۱۳۹۳).*کلتور او ټولنه*. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

کامران، محمد صدیق. (بې نېټې) .*دیني ښوونه*. بې ځایه: بې خپرندویه.

مدني، مولوي حبیب الرحمن. (بې نېټې) .*د طالبانو د انجمن تقریرونه*. مسؤل مکتبه شیخ الهند.

معارف وزارت. (بې نېټې) .*دوهم ټولګی: د قرآن کریم زده کړه او اسلامي ښوونه او روزنه*. د کتابونو د تالیف لوی ریاست، کندهار: قدیمي کتاب پلورنځی.

معارف وزارت. (۱۳۹٦). *درېیم ټولګی: د قرآن کریم زده کړه او اسلامي ښوونه او روزنه*. د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف او پراختیا ریاست.

مودودي، مولانا سید ابو الاعلی.( ۱۳۸۸). *د اسلامي نظام فکري بنستونه*. بې ځایه: بې خپرندویه.

ناظم، محمد داود.(۱۳۹۱) .*د عامه ذهنیتونو د روښانولی سرچینې*. کابل: د خیبر خپرونو اداره.

ناصري، عطاءالله.(۱۳۹۳). *فردي حقوق د اسلام له نظره*. بې ځایه: بې خپرندویه.

نظري، قدرت الله.(۱۳۹۵). *د ښوونې او روزنې اساسات*. کندهار: عرفان خپروونکی ټولنه.

پوهني وزارت.(۱۳۹۸). *پښتو لومړی ټولګی*. کابل: د پوهني وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست.

پوهني وزارت.(۱۳۹۸). *پښتو دوهم ټولګی*. کابل: د پوهني وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست.

پوهني وزارت.(۱۳۹۹). *پښتو درېیم ټولګی*. کابل: د پوهني وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست.

پوهني وزارت. (بې نېټې) .*درېیم ټولګی: د مدرسي پښتو*. کندهار: مکتبه ودودیه، ارګ بازار.

شایق، احسان الله. (بې نېټې) .*ماشومانو دیني تعلیمات*. کندهار: حبیبي خپروندیه ټولنه

Social Sceince
AcademicJournal

ليد د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# An Integrated Curriculum for Religious and Contemporary Education in Primary Schools

Asadullah Noor
Department of Pashto Language and literature, Education Faculty,
Higher Education Instituite of Oruzgan
Corresponding author Email: Asadnoorkh@gmail.com

## Abstract

The integrated curriculum of religious and modern education is an innovative step in the educational system that aims to present religious values and contemporary sciences in a balanced manner. The success of this curriculum depends on the collective efforts and support of experts, teachers, parents and society. If implemented properly, students will be trained according to Islamic values while meeting international standards. Moreover, this initiative will help reduce the societal conflicts that are often fueled by external forces. A well-structured and balanced curriculum aligned with Islamic and national values is crucial. Though the development of such a curriculum poses certain challenges, it is essential for the progress of the educational system and national unity. A key issue is that religious schools (MADRASA) give little attention to modern subjects, while regular schools do not adequately emphasize religious studies. Additionally, teachers often lack interest in teaching these subjects, which negatively affects the quality of education and the efficiency of the educational system. This study will highlight and analyze the similarities and differences in the subjects taught in schools and madrasas up to the sixth grade.

**Keywords:** Religious, Modern, Curriculum, Value, Grade.

# Islamic Emirate of Afghanistan

# Ministry of Higher Education

# Helmand University

# Leed Social Science Academic Journal


**Volume:1 Issue: 2 Year:2025**